مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹۴**(از ۲۳ الی ۳۰ دلو ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

### افغان-امارات اړیکې؛ د ډیپلوماتانو له وژل کېدو وروسته

افغان-امارات اړیکې؛ یوه لنډه مخینه ........................................ ۴

د ملي یووالي حکومت پرمهال افغان-امارات اړیکې ........................................ ۵

د ډیپلوماتانو او سفیر له وژل کېدو وروسته کابل-ابوظبي اړیکې ........................................ ۵

د افغان-امارات اړیکو راتلونکی ........................................ ٦

### داعش؛ از ظهور تا گسترش در افغانستان

ظهور شاخهٔ خراسان گروه داعش ........................................ ۸

فعالیت‌های داعش در افغانستان ........................................ ۹

عوامل گسترش نفوذ داعش در افغانستان ........................................ ۱۰


## مقدمه

د کندهار ولایت په مېلمستون کې له چادونې وروسته، چې د څو تنو افغان چارواکو ترڅنګ د عربي متحده اماراتو ډیپلوماتان هم پکې ووژل شول، داسې اندېښنې راوټوکېدې چې ګواکې له دې چادونې وروسته به له عربي اماراتو سره د افغانستان سیاسي او اقتصادي اړیکې زیانمنې شي او د همدغو اندېښنو له کبله له چاودنې پوره ۳۳ ورځې وروسته افغان ولسمشر اشرف غني عربي متحده اماراتو ته سفر وکړ.

له ولسمشرۍ مانۍ څخه په خپره شوې ویناپاڼه کې ویل شوي، چې که څه هم سفر تر ډېره په کندهار کې د عربي اماراتو د وژل شوو ډیپلوماتانو د غمشریکۍ لپاره شوی؛ خو په دغه سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په هراړخیزو همکاریو هم بحث کېږي. له عربي متحده اماراتو د ولسمشر غني له راګرځېدو سره سم د کندهار په چاودنه کې د هغه هېواد تپي شوی سفیر هم ومړ. خو دا چې په کندهار کې د ډیپلوماتانو وژل کېدو پر دواړخیزو اړیکو څومره اغېزه کړې او د دغو اړیکو راتلونکی به څه وي، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل دویمه برخه بیا په افغانستان کې د داعش ډلې ظهور او د دغې ډلې د نفوذ پراخېدو ته ځانګړې شوې. په دې وروستیو کې د دغې ډلې له‌خوا په څو خونړیو چاودنو کې لسګونه تنو ته مرګ‌ژوبله واوښته او په افغانستان کې د دغې ډلې د فعالیتونو د پراخېدو وېره نوره هم په زیاتېدو ده. دا چې د داعش ډلې فعالیتونه څرنګه په افغانستان کې پیل شول، تراوسه یې مهم فعالیتونه څه وو او د افغان حکومت او طالبانو له وسله‌والې مبارزې سره سره، دغې ډلې څرنګه خپل نفوذ پراخ کړ، هغه موضوعات دي چې دلته مو څېړلي دي.

# افغان-امارات اړیکې؛ د دیپلوماتانو له وژل کېدو وروسته



په افغانستان کې د متحده عربي اماراتو سفیر جمعه محمد عبدالله الکعبي، چې د تېرې جنورۍ په ۱۰مه په کندهار کې د والي په دفتر کې د چاودنې له کبله ټپي شوی و، تېره اوونۍ د ژورو ټپونو له کبله د اماراتو په یوه روغتون کې ساه ورکړه. په هغه چاودنه کې، د عربي متحده اماراتو د پنځو دیپلوماتانو ترڅنګ ۱۱ تنه نور هم وژل شوي وو، چې د کندهار مرستیال والي عبدالعلي شمسي، د افغانستان د مشرانو جرګې سناتور سراج الدین صفري، د ولسي جرګې غړی بازمحمد جوزجاني، د کندهار ولایت د بهرنیو اړیکو رییس شاه احمد سعید او افغان ډیپلومات یما قریشي هم پکې شامل وو.

له بلې خوا تېره اوونۍ افغان ولسمشر اشرف غني هم، په کندهار کې د عربي متحده اماراتو د پنځو ډیپلوماتانو له وژل کېدو وروسته، په یوه رسمي سفر متحده عربي اماراتو ته ولاړ او هلته یې د دغه هېواد د لوړپوړو چارواکو ترڅنګ، د وژل شوو دیپلوماتانو له کورنیو سره هم ولیدل.

دا چې د ملي یووالي حکومت پرمهال افغان-امارات اړیکې څرنګه وې، په تېره بیا په کندهار کې د دیپلوماتانو او سفیر له وژل کېدو وروسته په کوم وضعیت کې دي او د همدې خونړۍ پېښې په تناظر کې به د دواړخیزو اړیکو راتلونکی څرنګه وي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

## افغان-امارات اړیکې؛ یوه لنډه مخینه

افغانستان له متحده عربي اماراتو سره تاریخي، سیاسي او کلتوري اړیکې لري. د دواړو هېوادونو ترمنځ په لومړي ځل دیپلوماتیکي اړیکې په ۱۹۷۳ کال کې پیل شوې؛ خو د افغان جهاد پرمهال (۱۹۸۰-۱۹۸۹) له افغان مجاهدینو او افغان کډوالو سره د متحده اماراتو بشري او مالي مرستې د بل هر وخت په پرتله زیاتې وې. کله چې د ډاکتر نجیب حکومت ړنګ شو، نو په کابل کې یې سفارت پرانیست؛ خو د کورنۍ جګړې له پیلېدو سره دغه سفارت بېرته وتړل شو. وروسته په دویم ځل دغه سفارت په ۲۰۰۴ کال کې بیا پرانیستل شو.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې افغان ولسمشر حامد کرزي او د بهرنیو چارو پخوانیو وزیرانو هم څو ځله عربي متحده اماراتو ته سفرونه کړي او په دې لړ کې یې، په ۲۰۱۳ کال کې یو امنیتي تړون هم لاسلیک کړ.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې، متحده عربي امارات یو له هغو اسلامي هېوادونو څخه دی، چې په افغانستان کې د بشري موخو لپاره پوځي حضور لري او د افغانستان په بیارغونه او زېربنایي کارونو کې یې زیاته ونډه اخیستې ده. د بېلګې په ډول له ۲۰۰۱ کال راهیسې، متحده اماراتو له افغانستان سره د روغتیا، زېربناوو جوړولو (سړک، ښوونځي، جومات، پوهنتون (د خوست شیخ زاید پوهنتون)، روغتون) په برخه کې مرستې کړې دي. د یوې سرچینې له قوله، عربي اماراتو په دغه برخه کې له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې د ۵.۱ ملیارده ډالرو په ارزښت مرستې کړې دي.

په بل اړخ کې عربي متحده امارات، له افغانستان سره د پولیو په ختمولو او د ماشومانو د واکسیناسیون په برخه کې هم پراخې مرستې کوي. د پولیو ختمولو د پروګرام له مخې به، چې ډېره پاملرنه یې افغانستان او پاکستان ته ده، عربي امارات تر ۲۰۱۸ کال پورې ۱۲۰ میلیون ډالره ځانګړي کړي. دغه راز ٦٦ میلیون ډالره د (Pneumococcal and Pentavalent) واکسینونو ته هم ځانګړي شوي او د ماشومانو د تغذیې په برخه کې هم له افغانستان سره همکاري کوي.

په افغانستان کې د اماراتو د سفیر له قوله، تراوسه یې په افغانستان کې ۱۸۷۰۰ افغان ملا امامان روزلي، د ۱۳۰۰ نورو ملا امامانو روزنه هم په پام کې ده، چې له دې ډلې به ۳۴۰ تنه ملا امامان ډېر ژر د لوړو زده‌کړو لپاره الازهر پوهنتون ته هم واستول شي.

## د ملي يووالي حکومت پرمهال افغان-امارات اړيکې

د ملي يووالي حکومت پرمهال د افغانستان او متحده عربي اماراتو ترمنځ اړيکې پراخې شوې، د دواړو هېوادونو ترمنځ هوکړه‌ليکونه او تړونونه لاسليک شول او دغه راز دُبۍ ته د افغان لوړ پوړو چارواکو سفرونه هم زيات شول. د بېلګې په توګه افغان ولسمشر اشرف غني دوه ځله، د ولسمشرۍ مانۍ لومړي مرستيال يو ځل، د بهرنيو چارو وزير او نورو لوړپوړو چارواکو څو ځله متحده اماراتو ته سفرونه وکړل.

دغه مهال په افغان-امارات اړيکو کې درې ټکي د پام وړ دي:

**لومړی؛** افغانستان د يمن په جګړه کې د سعودي عربستان او عربي اماراتو پر ملاتړ اعلاميه خپره کړه او هم د تروريزم پرضد د سعودي په مشرۍ په ائتلاف کې شامل شو. په بل اړخ کې د يمن په جګړه کې د سعودي عربستان پر پلويتوب د پاکستان له‌خوا د اعلاميې نه صادرولو او د پوځ نه لېږلو د اسلام‌آباد-دُبۍ پر اړيکو سيورى وغوړاوه.

**دويم؛** په ۲۰۱۵ کال کې افغانستان او عربي متحده اماراتو د اوږدمهاله ستراتېژيکو همکاريو تړون لاسليک کړ، چې پر امنيتي همکارۍ او د تروريزم پرضد جګړې يې ټينګار کاوه.

**درېيم؛** د کندهار په چاودنه کې د متحده عربي اماراتو پنځه ديپلوماتان او ټيپي شوی سفير ووژل شول.

## د ديپلوماتانو او سفير له وژل کېدو وروسته کابل-ابوظبي اړيکې

که څه هم په پورتنيو دوو پرمختګونو کې د دواړخيزو اړيکو د نږدې کېدو هڅې وشوې او له کبله يې کابل-ابوظبي اړيکې په ښه لوري روانې وې؛ خو د کندهار خونړۍ پېښې دواړخيزې اړيکې يو ځل بيا ونګولې.

د کندهار له خونړۍ پېښې وروسته، افغان حکومت، ناټو او اماراتو درېواړو د پېښې په تړاو د تحقيقاتو کولو پريکړه وکړه. که څه هم د ناټو او اماراتو تحقيقات تراوسه نه دي څرګند شوي؛ خو بيا هم په لومړي سر کې افغان حکومت د پېښې مسؤوليت پر طالبانو واچاوه او د پېښې طرحه يې له هېواده بهر جوړه شوې وبلله. په بل اړخ کې طالبانو د دغې پيښې مسؤوليت ونه مانه او دا يې د کندهار د چارواکو ترمنځ داخلي شخړه وبلله. دغه وضعيت حالات پېچلي کړل او همدا لامل و، چې لومړی د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني او بيا د افغان ولسمشر اشرف غني په مشرۍ افغان پلاوي اماراتو ته په همدې تړاو سفرونه وکړل.

خو بیا هم، په یوه داسې مهال چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت د بل هر وخت په پرتله زیات ګواښونکی او خونړی دی، په دا ډول چاودنو کې د افغانستان د یو شمېر لوړ پوړو چارواکو ترڅنګ ان جهادي رهبران هم وژل شوي، د نورو هېوادونو استخبارات، له ایران سره پر پولې د سُني عربي هېواد زیاتېدونکی نفوذ او یو شمېر نور عوامل په دې پېښه کې د نورو بهرنیو عواملو شتون ته اشاره کوي.

## د افغان-امارات اړیکو راتلونکی

که څه هم په خرګنده توګه دواړو افغانستان او متحده عربي اماراتو ویلي، چې د کندهار پېښه به په دوه‌اړخیزو اړیکو سیوری ونه غوړوي؛ خو بیا هم دغې پېښې په لنډمهال کې یو څه بې‌باوري رامنځته کړې او دا بې‌باوري به هغه مهال لا زیاته شي، که د کندهار یو شمېر چارواکي پکې ښکېل ثابت شي.

له دې هر څه سره سره، د حکومتونو ترمنځ له اړیکو پرته، افغانستان او متحده عربي امارات د خلکو او سوداګرو ترمنځ پراخې اړیکې لري. اوسمهال تقریباً له یو نیم لکو زیات افغان کاریګر په اماراتو کې په کار بوخت دي او د افغان سفارت د معلوماتو له مخې، تر ۲۰۰۴ کال پورې په دُبۍ کې د افغان سوداګرو شتمني له ۴ ملیارده ډالرو زیاته وه. خو کله چې په هېواد کې امنیتي وضعیت خراب شو او دغه راز په اماراتو کې د غیرمنقولې دارایۍ او جایدادونو کاروبار کې ګټه زیاته شوه، نو ډېری افغان سوداګرو هلته ځایونه هم واخیستل. د بېلګې په توګه یوازې د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یې تقریباً ٦٠ میلیون ډالره پانګونه وکړه.

له همدې ځایه ده، چې د کندهار له پېښې وروسته د متحده عربي اماراتو د لوړپوړو چارواکو د توندو څرګندونو او غبرګون په نه شتون (د یوه امنیتي چارواکي له څرګندونو پرته) او پراخو دوه‌اړخیزو اړیکو ته په کتلو سره، ښايي د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ډېرې خرابې نه شي.

# داعش؛ از ظهور تا گسترش در افغانستان




شهر کابل چند روز پیش شاهد حملهٔ خونین انفجاری بود که در نتیجهٔ آن ۲۱ تن کشته و ۴۱ تن دیگر زخمی شدند. این احمله به تاریخ ۱۹ دلو ۱۳۹۵ هـ ش در توقف‌گاه موترهای ستره محکمه رخ داد و مسؤولیت آن را شاخهٔ خراسان گروه داعش به عهده گرفت.

یک روز بعد از این حمله، شش کارمند سازمان صلیب سرخ جهانی در ولایت جوزجان از سوی افراد نامعلوم مسلح کشته شدند و مقام‌های محلی این ولایت، کشتن این افراد را نیز به جنگجویان گروه داعش نسبت دادند. هرچند گروه داعش در این زمینه ابراز نظر نکرده است.

باآنکه پس از تایید حضور گروه داعش در افغانستان در سال ۲۰۱۵ میلادی، فعالیت این گروه در افغانستان محدود بود، ولی با گذشت چند ماه فعالیت جنگجویان منسوب به این گروه، در مناطق مختلف کشور دیده می‌شد. با گذشت حدود یک سال از آغاز فعالیت (در اوایل سال ۲۰۱٦) فعالیت‌های این گروه در افغانستان ضعیف‌تر شد، ولی حوادث سال ۲۰۱٦ ثابت ساخت که این گروه هنوز هم یک تهدید جدی در افغانستان پنداشته می‌شود و در کنار افغان‌ها کشورهای منطقه را نیز نگران ساخته است.

در این تحلیل به چگونگی ظهور شاخهٔ گروه داعش در افغانستان، فعالیت‌های این گروه در مناطق مختلف کشور و عوامل گسترش نفوذ جنگجویان این گروه در افغانستان، پرداخته شده است.

## ظهور شاخهٔ خراسان گروه داعش

پس از آنکه در سال ۲۰۱۳ میلادی میان ابوبکر البغدادی جانشین رهبر القاعده در عراق و جبهة النصره شاخهٔ القاعده در سوریه، اختلافات جدی به میان آمد؛ بلآخره به اعلام «خلافت» از سوی ابوبکر البغدادی در ۲۹ جون سال ۲۰۱۴، و جدایی این گروه از القاعده انجامید.

با اعلام «خلافت» از سوی گروه «دولت اسلامی» یا داعش در سوریه و عراق، شماری از افراد در مناطق قبایلی بین افغانستان و پاکستان نیز از اعلام خلافت توسط گروه داعش استقبال کردند و برخی از آن‌ها با ابوبکرالبغدادی به عنوان خلیفهٔ مسلمین «بیعت» کردند. مهم‌ترین این افراد، عبدالرحیم مسلم‌دوست[1] و شاهدالله شاهد سخنگوی پیشین طالبان پاکستانی بودند.

هرچند در آن زمان گروه داعش در مراحل ابتدایی حضور خویش در افغانستان بود و اخبار مبنی بر حضور جنگجویان این گروه بیشتر شایعات و تبلیغات پنداشته می‌شد؛ ولی با گذشت زمان این شایعات به حقیقت مبدل گردید و در اوایل سال ۲۰۱۵م حکومت افغانستان حضور جنگجویان داعش در افغانستان را تایید کرد و همزمان، این گروه نیز در جنوری ۲۰۱۵م حافظ سعیدخان[2] را به حیث والی خراسان[3] و عبدالرووف خادم[4] را به حیث معاون وی تعین کرد.

پس از اعلام رسمی والی و معاون خراسان توسط گروه داعش، شماری از افغان‌ها و پاکستانی‌ها به صفوف این گروه پیوستند؛ ولی شمار دقیق افغان‌ها و پاکستانی‌هایی که به جنگجویان این گروه پیوسته‌اند، تاهنوز معلوم نیست؛ اما در شاخهٔ "خراسان" داعش، هر دو (افغان‌ها و پاکستانی‌ها) حضور دارند.

[1] عبدالرحیم مسلم‌دوست در ولسوالی کوت ولایت ننگرهار به دنیا آمده و پس از حادثهٔ ۱۱ سپتامبر از سوی پاکستانی‌ها به امریکا سپرده شد و چندین سال را در زندان گوانتانامو سپری کرد که پس از آزاد شدن یکی از اعضای مهم طالبان پاکستانی بود.

[2] حافظ سعید خان به منطقهٔ قبایلی اورکزی ایجنسی در آنسوی مرز دیورند تعلق دارد.

[3] سرزمین قدیم خراسان در اوایل ظهور اسلام سرزمینی شامل تمام افغانستان و تاجیکستان امروز، بخش‌هایی از ایران، ازبکستان، ترکمنستان و بخشی از مناطق آنسوی دیورند را شامل می‌شد.

[4] عبدالرووف خادم معاون پیشین کمیسون نظامی طالبان بود که پس از اعلام او به صفت معاون والی گروه داعش در افغانستان، به تاریخ ۹ فبروری ۲۰۱۵، در حملهٔ یک طیارهٔ بی‌سرنشین امریکایی در هلمند کشته شد.

## فعالیت‌های داعش در افغانستان

گروه داعش در اوایل فعالیت‌های خود را به شکل تبلیغات و با نشر ویدیوها و رساله‌های تبلیغاتی در چندین ولایت کشور آغاز کرد و افراد وابسته به این گروه با پرچم‌های سیاه در این ولایات دیده شد. پس از آن در شرق افغانستان به خصوص از ولسوالی اچین ولایت ننگرهار فعالیت‌های نظامی خویش را آغاز کرد.

جنگجویان داعش در نخستین اقدام، ۱۲ تن از موی سفیدان قوم شینواری در ولایت ننگرهار را توسط مواد انفجاری در یک دشت انفجار دادند و ویدیوی آنرا منتشر کرد. سپس افراد زیادی در ولسوالی‌های کوت، نازیان و هسکه مینه را سر بریدند و یا هم تیرباران کردند.

افراد وابسته به گروه داعش برعلاوهٔ مناطق شرقی، در سایر ولایات کشور نیز به کشتار مردم ادامه دادند که به گونهٔ مثال می‌توان از حملهٔ خونین در شهر جلال‌آباد و تیرباران کردن شماری از غیرنظامیان در ولایت غور و همچنان سر بریدن چند تن در ولایت زابل یادآوری کرد. در کل، حضور و فعالیت این گروه در سال ۲۰۱۵ برای افغان‌ها خونبار ثابت شد. بر اساس معلومات وزارت دفاع افغانستان، این گروه تنها در شش ماه اخیر سال ۱۳۹۴ (۲۰۱۵-۲۰۱٦) حدود ٦۰۰ فرد ملکی را در افغانستان کشته بود.[5]

حکومت افغانستان وارد مبارزه با داعش گردید و در اواخر ۱۳۹۴ تا حدی این گروه در افغانستان سرکوب شد. از سوی دیگر، با وجود احتیاط طالبان در رویارویی با داعش، طالبان نیز با این گروه درگیر شدند و پس از جواب منفی گروه داعش در سوریه و عراق به نامهٔ طالبان، جنگ خونین طالبان علیه داعش آغاز یافت و در سرکوب این گروه نقش برازنده‌ی داشت.

شاخهٔ داعش در افغانستان تا اوایل سال ۲۰۱٦م، در اثر مبارزهٔ حکومت و طالبان بیشتر تعضیف گردید، ولی در جریان سال ۲۰۱٦ نیز این گروه به حملات خویش ادامه داد و خونین‌ترین حملهٔ که توسط این گروه انجام یافت، حمله بر تظاهرکننده‌گان جنبش روشنایی در دهمزنگ کابل در ۲۳ جون بود که در نتیجهٔ آن حدود ۴۰۰ تن کشته و زخمی شدند. مسؤولیت حمله بر عزاداران شیعه در زیارت کارتهٔ سخی شهر کابل، حمله بر موتر حامل کارمندان امنیت ملی افغانستان، حمله بر قونسلگری پاکستان در جلال‌آباد، حمله بر مدرسهٔ باقرالعلوم در شهر کابل و حملات خونین دیگر را نیز شاخهٔ داعش در افغانستان به دوش گرفت.

---

[5] Afghan online press, «Daesh killed over 600 Afghans in six months: Defense Ministry» see it online: http://www.aopnews.com/isisdaesh/daesh-killed-over-600-afghans-in-six-months-defense-ministry /

دفتر سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) در گزارش سالانهٔ خویش در مورد تلفات ملکی در افغانستان که به تاریخ ٦ فبروری ۲۰۱۷ منتشر شد، ۸۹۹ مورد تلفات ملکی (۲۰۹ کشته و ٦۹۰ زخمی) را به گروه داعش نسبت داده است. در حالیکه این رقم در سال ۲۰۱۵ میلادی ۸۲ مورد (۳۹ کشته و ۴۳ زخمی) بود و نشانگر ده برابر افزایش در تلفات ملکی به دست این گروه نسبت به سال قبل می‌باشد.[6]

## عوامل گسترش نفوذ داعش در افغانستان

گرچند گروه داعش در افغانستان موفق به گسترش نفوذ خویش با سرعتی که عراق و سوریه داشت، نشد. ولی با وجود مبارزهٔ حکومت از یک‌سو و طالبان از سوی دیگر، این گروه نه تنها سرکوب نشد، بلکه گسترش نفوذ در ولایات مختلف کشور را نیز داشت. با این هم تحلیل‌هایی وجود دارد که در مورد نفوذ داعش در افغانستان از سوی برخی حلقات در داخل کشور و شماری کشورهای منطقه، به دلائل گوناگون مبالغه و بزرگ‌نمایی صورت می‌گیرد، چون نظر به اعتقادات این گروه جایی برای جنگجویان این گروه در بین مردم افغانستان وجود ندارد.

پس از ظهور داعش در مناطق شرقی کشور و کشته شدن شماری از افراد طالبان توسط جنگجویان این گروه، تحلیل‌هایی نیز وجود داشت که حکومت برای سرکوب طالبان توسط داعش با این گروه مبارزهٔ جدی نمی‌کند و این امر یکی از عوامل گسترش فعالیت‌های این گروه در کشور پنداشته می‌شد. بعدا شماری از اعضای پارلمان افغانستان نیز داعش را پروژهٔ خارجی خواندند. عبدالظاهر قدیر معاون اول ولسی جرگه و شمار دیگر از اعضای این جرگه، بصورت پی‌هم نیروهای خارجی و حلقات درون حکومت بخصوص شورای امنیت ملی را به حمایت از گروه داعش متهم کرد. ولی تا هنوز اسناد و ثبوت‌های قانع‌کننده‌ی ارائه نشده و بیشتر اشاره به مهاجرین وزیرستان بوده که در نتیجهٔ عملیات ضرب عضب ارتش پاکستان به خاک افغانستان پناه آورده بودند.

در کنار این، در رابطه به گسترش نفوذ گروه داعش در افغانستان می‌توان از چندین عامل یادآوری کرد:

- **وضعیت خراب امنیتی:** گروه داعش زمانی در افغانستان سر بلند کرد که وضعیت امنیتی کشور پس از سال ۲۰۰۱م، بیش از هر وقت دیگر خراب‌تر بود. حکومت در مناطق مختلف کشور درگیر

[6] UNAMA, Release of UNAMA's 2016 annual report on protection of civilians in armed conflict, 6 feb 2017: https://unama.unmissions.org/release-unama%E2%80%99s-2016-annual-report-protection-civilians-armed-conflict

جنگ‌های شدید با طالبان بود و داعش با استفاده از آن فرصت، در مناطق شرقی افغانستان به جای پای خود دست یافت و از آنجا فعالیت‌های خود را گسترش داد.

- **اختلافات داخلی طالبان:** عامل دیگر گسترش نفوذ این گروه در افغانستان را می‌توان اختلافات داخلی طالبان دانست. تعداد از اعضای طالبان که به دلیل اختلافات از این گروه جدا شده بودند، باگروه داعش در افغانستان بیعت کردند و این بیعت در همه عرصه‌ها بخصوص در سربازگیری، با گروه داعش همکاری کرد.
- **کاهش قدرت داعش در سوریه و عراق:** گروه داعش در اوایل اعلام «خلافت» در عراق و سوریه به بسیار سرعت در حال گرفتن مناطق این دو کشور بود و می‌خواست فعالیت‌های خویش را به مناطق مختلف جهان گسترش دهد. اما پس از تشکیل ائتلاف برضد داعش، از نیروی داعش در عراق وسوریه کاسته شد و بیشتر مناطق تحت کنترول خود را از دست داد که به همین دلیل کمک با شاخهٔ خراسان این گروه نیز ضعیف‌تر شد.
- **حلقات استخباراتی:** برخی تحلیگران و حتی برخی کشورها از همان آغاز حضور گروه داعش در افغانستان را به استخبارات منطقه و جهان نسبت می‌داد که گویا به فعالیت در محدودهٔ مرزهای افغانستان اکتفا نخواهد کرد و افغانستان برای داعش به عنوان تختهٔ خیز به سوی آسیای میانه مطرح است. به همین دلیل حتی عبدالکریم خرم رئیس دفتر رییس جمهور سابق افغانستان این کار را دسیسهٔ امریکا می‌داند و در مقاله‌ای پیشبینی کرده است که «دامنهٔ جنگ به کشورهای همسایهٔ افغانستان و مرزهای چین کشانده می‌شود و برای عملی شدن این نقشه ضرورت است تا افغانستان به یک "وزیرستان بزرگ" مبدل گردد».

پایان


**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com


**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.